# د جمهوري رياست لپاره د ښځو ټاکل

ليکنه : احمد نويد (نوري)
د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي استاد

# سريزه

حامداً لله ومصلياً علی رسول الله وبعد:

جمهور رئيس هغه شخص دې چې په اړوند هيواد کې د قيادت په برخه کې له هغې شخص څخه پورته بل شخص نه وي يعنې په يو هيواد کې لمړني شخص ته جمهور رئيس ويل کيږي ، چې دې جمهور رئيس ته د اسلام په سياسي نظام کې خليفه او اميرالمؤمنين ويل کيږي او په جمهوري نظامونو کې ورته ولسمشر يا جمهور رئيس ويل کيږي.

دا چې د مسلمانانو عمومي قيادت (خلافت) څه شې د ی او آيا کيدای شي چې ښځه د مسلمانانو د خليفه په حيث وګومارل شي او کنه نو ددې بحث په ترڅ کې به إن شاء الله چې ددې دواړو پوښتنو لپاره د شرعي مصادرو څخه ځوابونه پيدا کړو.

۱. د خلافت لنډه پيژندنه

خلافت د دولتونو د سياسي رژيمونو د جملې څخه د اسلام د سياسي نظام نوم دی چې په لغت کې د خلف، يخلف د باب د مصدر صيغه ده چې معنی يې وروستی يا بيا راتلونکې نسل دی[279] همدارنګه خلافت په لغت کې د خليفه کيدلو ، د يوچا قايم مقام کيدل ، نيابت کول ، امامت او امارت په معنی دی[280].

او په اصطلاح کې خلافت عبارت د هغه سياسي نظام څخه دی چې د الله تعالی د لوري د ټول بشريت لپاره غوره کړای شوی دی ، ټول قوانين او هدايات يې د الله تعالی له لوري نازل شوي دي ، يو تلپاتې او جامع نظام دی چې د هر وخت او هر ځای سره مطابقت لري او د ټول بشريت د خير او فلاح او سوکالئ لامل ګرځي[281].

همدارنګه د خلافت د تعريف په هکله امام ابوالحسن الماوردي داسی وايي:

اسلامي حکومت (خلافت) ددې لپاره جوړيږي چې د اسلام د سپيڅلي دين د ساتنې او د دنيا د نظم او نسق په چلولو کې د نبي صلی الله عليه وسلم نيابت وکړي[282].

---

[279] ګوهر رحمان ، اسلامي سياست ، ژباړه : قريب الرحمن سعيد ، پيغام خپرندوی مرکز ، صـ ۹۹

[280] حسن عميد ، فرهنګ فارسي عميد ، انتشارات فرهنګ نما ،تهران، ۱۳۸۸ ، صـ ۴۳۹

[281] زاهدي احمدزی ، د اسلامي حکومت بنسټونه ، امير کروړ کتابتون ، پېښور ، کال ۱۳۸۷ هـ ش ، صـ ۵

[282] ګوهر رحمان ، اسلامي سياست ، ژباړه : قريب الرحمن سعيد ، پيغام خپرندوی مرکز ، صـ ۱۰۲

۲. آیا په اسلام کې ښځه د خلافت دنده په غاړه اخیستلای شي؟

په اسلامي شرعي نظام کې ښځه د مسلمانانو د خلیفه او عمومي قاید په حیث ټاکل شرعاً ناروا او یو نا مشروع کار ګڼل شوی دی او د اسلامي اُصولو خلاف دی ځکه چې په قرآنکریم کې الله "ج" فرمایلي دي چې سړي په ښځو باندې حاکمان دي او همدارنګه د اسلام د نصوصو د مطالعې وروسته به په واضحه توګه معلومه شي چې اسلام ښځو ته د خلافت د ترسره کولو مسؤلیت او حق ندی ورکړی بلکې دا بار یې د نارینه وو په اوږو باندې بار کړی دی نو د خپلې ادعا د ثبوت لپاره لاندې دلایل ذکر کوو:

## د قرآنکریم دلایل:

لکه څرنګه چې قرآنکریم د الله تعالی کتاب دی او د مسلمانانو لپاره یو دایمي او کامل قانون دی او د مسلمانانو د ژوند ټولی مهمې مسئلې پکې بیان شوي دي نو په همدې خاطر لمړې د ښځو د خلافت د جواز او عدم جواز په هکله د قرآنکریم آیتونه د دلیل په توګه ذکر کوو:

## ۱- الله تعالی د النساء سورت په ۳۴ آیت کې فرمایي:

ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَبِمَآ أَنفَقُوا۟ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ ۚ فَٱلصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ حَٰفِظَٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُ ۚ وَٱلَّٰتِى تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَٱهْجُرُوهُنَّ فِى ٱلْمَضَاجِعِ وَٱضْرِبُوهُنَّ ۖ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا۟ عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا[283].

ژباړه: نارینه پر ښځو مسلط اداره چیان دي، له دې امله چې الله د هغو ځینو (نارینه و) ته پر ځینو نورو (ښځو) لوړتیا وربښلې ده، او له دې کبله چې نارینه خپل مالونه لګوي؛ نو کومې ښځې چې صالحې دي، هغوی د فرمان منونکې لري او د نارینه ؤ په غیاب کښې د الله تعالی تر ساتنې او څارنې لاندې د هغو د حقوقو ساتنه کوي. او تاسي چې د کومو ښځو له سرغړونې څخه اندېښمن یاست، هغوی (لومړی) پوه کړئ، (بیا) دخوب ځایونه ورڅخه جلا کړئ او (بیا)

---

[283] القرآن الکریم ، سورت النساء ، ایت ۳۴

و یې وو هئ، نو که هغوی ستاسي منونکې شي نو هغو ته د لاس غځوني لپاره بېځایه پلمې مه جوړوئ. باور ولرئ چي له پاسه الله شته چي لوی او لوړ دی[284].

شرحه: په نوموړي آیت شریف کې الله "ج" د قیادت په برخه کې په ښځو باندې د نارینه وو برتري بیان کړې ده پدې معنی چې قیادت او رهبري به د نارینه وو په لاس کې وي او په څرګند ډول باندې یې د قوامیت مقام نارینه وو ته ورکړې دې د اچې قوامیت څه شې دې نو موږ به د قوام د کلیمې معنی وګورو چې قوام څه ته وایي:

ډاکتر حسن عمید په خپل قاموس (فرهنگ فارسي عمید) کې د قوام د کلمې په معنی کې وایي چې قوام هغه چا ته وایي چې د یو کار د ترسره کولو د عُهدې څخه ووتلای شي او یا هم هغه څوک چې د امر کولو توانایي ولري[285].

همدارنګه استاد عبدالقیوم زاهد مشوانې په خپل قاموس (زاهد پښتو – پښتو سیند) کې وایي چې قوام د نظام په معنی دې او یا هغه چاته ویل کیږي چې کوم کار پرې قایم وي یعنې چې کار د هغې د عُهدې پورې تړلې وي[286].

پدې هکله مولانا ابو الاعلی مودودي په خپل تفسیر تفهیم القرآن کې داسی فرمایلي دي چې قوام هغه چاته وایي چې د یو وګړي یا ادارې یا نظام د چارو د سم چلولو ، ساتنی او څارنی او د هغه د اړتیاوو د پوره کولو مسؤل وي[287].

همدارنګه د قوام د معنی په هکله شیخ القرآن والحدیث مولانا عبدالسلام رستمي چې د جامعة تعلیم القرآن د مدرسې موسس او استاد وو په خپل تفسیر "أ حسن الکلام" کې داسې فرمایلي دي چې د قوام نه مُراد د کورنۍ د کارونو انتظام دی او همدارنګه د دې آیت شریف په تفسیر کې وایي چې ددې آیت یو مقصد دادې چې د ښځو امارت او امامت په نارینه وو باندې منع دی[288].

همدارنګه د دې مبارک ایت شریف په شرحه کې مولوي صاحب عبدالله فاني په خپل تفسیر "تفسیر لامثال" کې دارنګه تشریح کړې ده چې د زنانه وو له په سړو باندې هیڅ قسم مشري او

---

[284] **محمد حسن، دیوبندي/ شبیراحمدعثماني، کابلی تفسیر ، مطبع مجمع خادم الحرمین الشریفین ق صـ ۴۶۶**

[285] **حسن ، عمید ، فرهنگ فارسي عمید ، انتشارات فرهنگ نما ،تهران، ۱۳۸۸، صـ ۷۴۹**

[286] **عبدالقیوم زاهد ، مشوانې ، زاهد پښتو-پښتو سیند ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۱۳۹۵ هـ ش صـ ۷۵۲**

[287] **سید ابوالاعلی ،مودودي ، تفسیر تفهیم القرآن ، ژباړه :مولوي قیام الدین کشاف ، ۱۳۶۲هـ ش صـ ۴۵۰-۴۶۰**

[288] **عبدالسلام ، رستمي ، تفسیر القرآن الکریم ، دارالسلام خپرندویه ټولنه، پشاور ،۱۴۲۳هـ ق صـ ۱۹۰**

منصب نشته او همدارنګه د قوام د معنی په هکله یې داسې ویلي دي چې قوام په عربي کې هغه چاته ویل کیږي چې د څه کار د نظام د چلولو والا وي نو لهذا د ښځو لپاره هیڅ منصب او مشري جایز نده[289].

نو د پورته آیت شریف د معنی او مفهوم څخه داسې معلومیږي چې نارینه په ښځو باندې حاکم ، آمر ، مسؤل او مشران ټاکل شوي دي او ښځو لپاره هیڅ جایز نده چې هغه دې آمره او حاکمه شي ؛ نو کله چې الله تعالی ښځو ته په مطلق ډول په نارینه وو باندې د مشرۍ حق ندې ورکړې نو دعمومي خلافت حق خو یې بلکل ندې ورکړې.

## ۲ - همدارنګه د النساء سورت په ۳۲ نمبر آیت شریف کې الله "ج" فرمایلي دي:

وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا ۖ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ۚ وَاسْأَلُوا اللَّهَ مِن فَضْلِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا[290]

ژباړه : او څه چې الله ستاسې څخه ځینو ته د ځینو نورو په پرتله زیات ورکړیدي، د هغو هیله مکوئ؛د نارینه ؤ برخه د هغو له کړنو سره سمه او د ښځو برخه د هغو له کړنو سره سمه ده. هو، له الله څخه د هغه د فضل دُعاګاني وغواړئ. په دې کښې شك نشته چې الله په هر څه پوه دی[291].

شرحه : په مخکیـ نې آیت شریف کې داسې بیان وشو چې نارینه به په ښځو باندې حاکمان ګرځول کیږي او مشري او امارت به هم د نارینه وو په لاس کې وي نو که کومه ښځه وایي چې زه هم باید د امارت او رهبرۍ حق ولرم نو دا آیت شریف ورته د قرآن کریم څخه وړاندې کوو چې الله "ج" امر کړې دي چې نارینه به حاکم وي او تاسو (ښځینه) به ددې خبرې ارمان او طلب نه کوئ ځکه چې الله "ج" ښه پوهیږي چې د ځمکې په سر به امیر او خلیفه څوک وي .

## ۳ -الله تعالی په خپل مبارک کتاب قرآن عظیم الشان په البقره سورت ۲۲۸ نمبر آیت شریف کې فرمایي:

وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ[292]

---

[289] عبدالله ، فاني ، تفسیر لامثال ،جلد اول، معراج کتب خانه ، پشاور ، ۱۴۱۰هـ ق صـ ۳۰۹

[290] القرآن الکریم ، سورت النساء ، ایت ۳۲

[291] عبدالله ، فاني ، تفسیر لامثال ،جلد اول، معراج کتب خانه ، پشاور ، ۱۴۱۰هـ ق صـ ۳۰۷

[292] القرآن الکریم ، سورة البقره ، آیت ۲۲۸

ژباړه : او شته سړو ته په دوی (ښځو ) باندې بهتروالي .
شرحه : ددی آیت شریف په تفسیر کې مولوي صاحب عبدالله فاني په خپل تفسیر (تفسیر لامثال ) کې داسی بیان کوي چې نارینه لره په ښځو باندې درجه او مرتبه شته چې دا درجه او مرتبه امامت ، د طلاق حق، قضاء ، حکومت او صدارت ته شاملیږي او پدې اړه نور آیتونه او صحیح احادیث هم موجود دي[293].

نو د قرآن عظیم الشان د پورته مبارکو آیتونو د ذکر کولو وروسته چې په قاطع ډول پکې الله تعالی امر کړې دې چې حاکمیت او خلافت د نارینه وو دنده ده او ښځې ددې دندې د ترسره کولو حق نلري نور نو د نورو دلایلو د ذکر کولو اصلاً هیڅ حاجت نشته خو بیا هم د موضوع د لا روښانتیا لپاره د اسلامي شریعت له نورو مصادرو څخه هم یو څه دلایل ذکر وو.

## د نبوي احادیثو څخه دلایل:

لکه څرنګه چې مو مخکې د قرآنکریم د مبارکو آیتونو په اساس دا خبره په اثبات ورسوله چې ښځې د اسلام په سیاسي نظام کې نشي کولای چې د نارینه وو رهبري په لاس کې واخلي نو د موضوع د لا ښه روښانه کولو لپاره د نبوي احادیثو څخه هم یو څه دلایل بیانوو.

۱ – امام ابو عبدالله محمد بن عبدالله الحاکم متوفی ۴۰۵ هـ ق په خپل کتاب المستدرک علی الصحیحین کی له ابو بکرة "رضی الله عنه" څخه روایت کوي چې هغه ویلي دي : یو ځل د مجاهدینو یو لښکر د غزا څخه کامیاب راستون شو ؛ کله چې رسول الله "صلی الله علیه وسلم" له هغوی څخه د دښمن د فوځ او د فتحې د لاملونو په هکله پوښتنه وکړه نو د مسلمانانو د لښکر مشر ورته د جنګ مکمل حالات بیان کړل او ورته یې وویل چې د کافرانو د لښکر مشره یو ښځه وه نو ددې خبرې په اورېدو سره رسول الله "ص" وفرمایل:
«هَلَکَتِ الرِّجَالُ حِینَ أَطَاعَتِ النِّسَاءَ»:
ژباړه: کله چې سړو د ښځو اطاعت او مشر تابه قبوله کړه نو هرو مرو هلاک شول(مستدرک ۴ ټوک ۲۹۱ مخ)[294]

شرحه: د رسول الله "صلی الله علیه وسلم " لدې مبارک قول څخه له ورایه معلومیږي چې هر کله چې د نارینه وو مشري د ښځو په لاس کې شي نو هغوی به هرو مرو هلاکیږي او دلته یې د

---

[293] عبدالله ، فاني ، تفسیر لامثال ،جلد اول، معراج کتب خانه ، پشاور ، ۱۴۱۰هـ ق صـ ۱۳۱

[294] زاهدي احمدزی، ښځه او سیاست ، امیر کروړ کتابتون ، پشاور،۱۳۹۱هـ ش صـ ۵۴

کفارو د ماتې د يو لامل په توګه د هغوی د ناسالمې رهبرۍ (دا چې رهبري يې د ښځې په لاس کې وه) يادونه کړې ده يعنې د رسول اکرم "صلی الله عليه وسلم" د قول څخه داسې معلومېږي چې ښځه په رهبرۍ کې هیڅکله کاميابي په لاس نشي راوړلای.

نو کله چې رسول الله "صلی الله عليه وسلم" د يو فوځ د مشرۍ په برخه کې د ښځې رهبري ناکامه او بده وګڼله نو د عمومي خلافت لپاره خو په طريق اولی سره د ښځې رهبري سمه نده او بل دا چې رسول الله "صلی الله عليه وسلم" دلته د اطاعت کلمه استعمال کړه او پدې کې هم عمومي اطاعت ( د خليفه اطاعت ) راځي او هم د يوې برخې اطاعت.

۲ - امام محمد بن اسماعيل البخاري په خپل صحيح کې له ابي بکرة "رضي الله عنه" څخه روايت کوي چې ويلي يې دي : کله چې نبي کريم "صلی الله عليه وسلم" ته دا خبر راورسيد چې د فارس په ملت باندې د کسرى لور (بوران بنت خسرو) واکمنه شوې نبي کريم "صلی الله عليه وسلم" وفرمايل[295]: «لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً» .

ژباړه : هغه ملت او قوم به هیڅکله هم کامياب نشي چې ښځو ته د چارو واګې سپاري (صحيح البخاري ۵ ټوک )

شرحه: د هغه قوم د ناکامۍ خبره کړې ده چې مشري يې د ښځې په لاس کې وي او ربښتيا هم بيا داسې وشول چې ډېر ژر بيا د فارس امپراطوري د مسلمانانو لخوا ونيول شوه او د اسلامي قلمرو جز وګڼل شوه.

۳ - علامه حافظ علي بن ابي بکر الهيثمي متوفی ۷۰۸ هـ ق په خپل کتاب مجمع الزوايد کې د ابو بکرة "رضي الله عنه" څخه روايت کوي چې د نبي کريم "صلی الله عليه وسلم" په وړاندې د سبأ د قوم د ملکې بلقيس د حکومت کولو يادونه وشوه نو رسول الله "صلی الله عليه وسلم" وفرمايل:

لا يُقَدِسِ الله أُمَّةً قَادَتْهُمْ اِمْرَاَةٌ.

ژباړه : الله "ج" هیڅکله داسې قوم سپيڅلې نه ګرځوي چې قيادت يې د ښځې په لاس کې وي (مجمع الزوايد- ۲۱۰ مخ )[296].

---

[295] پورتنی منبع ، صـ ۵۵

[296] زاهدي احمدزی، ښځه او سياست ، امير کروړ کتابتون ، پشاور، ۱۳۹۱هـ ش صـ۵٦

شرحه : ددې حدیث شریف مفهوم هم همغه دې چې مخکې د نورو مبارکو حدیثونو په شرحه کې بیان شو چې د الله "ج" په نزد هیڅکله هم د ښځو رهبري او قیادت په نارینه وو باندې صحیح ندی.

۴ – امام ابن الاثیر په خپل کتاب النهایه فی غریب الحدیث کې د ابوبکره رضي الله تعالی عنه څخه روایت کوي چې وایي ، نبي کریم "صلی الله علیه وسلم " فرمایلي دي: مَا اَفْلَحْ قَوْمَ قِیْمَهُمْ اِمْرَاَةٌ.(جامع ترمذي ، ۴ټوک ، ص۵۲۹)

ژباړه : هغه قوم به هیڅکله بریمن او مُراد ته رسیدونکې نشي چې د چارو منتظم یې ښځه وي[297].

شرحه : ددې حدیث شریف مفهوم هم د هغه نورو مبارکو احادیثو پشان دې چې مخکې هم ذکر شول ، او هغه دا چې رسول الله "صلی الله علیه وسلم" د هغه قوم د ناکامۍ او هدف ته د نه رسېدو خبره کړېده چې د چارو واګې ښځو ته سپاري ، برابره خبره ده که هغه د عمومي قیادت موضوع وي او که د یوې خاصې ادارې د رهبرۍ موضوع وي.

۵ – امام ابو داوود طیالیستي متوفی ۲۰۴ هـ ق چې د حدیث پوهانو د دریمې طبقې ځلاند او اوچار حافظ تېر شوې دې په خپل معتمد کتاب مسند کې له ابوبکره رضي الله تعالی عنه څخه روایت کړې دې چې ویلي یې دي ، رسول الله "صلی الله علیه وسلم" فرمایلي دي: لَنْ یُفْلَحْ قَوْمٌ أسندوا أمرَهم امرأةً.(مسند ابو داوود طیالیستي ، ص۱۱۸)

ژباړه : هغه قوم او ملت به هیڅکله بریمن او مُراد میندونکې نشي چې خپلې سیاسي چارې او قیادت ښځې ته وسپاري[298].

شرحه : ددې مبارک حدیث هدف هم هماغه دې چې مخکې په نورو احادیثو کې تیر شو د بیاځلي تکرار څخه یې تېرېږو.

## د اسلامي اُمت د علماوو اجماع:

څرنګه چې د اسلامي فقهی د اُصولو له مخې په شریعت کې دریمه منبع او مصدر د اُمت د علماوو اجماع ده نو موږ هم اوس پدې ځای کې د اسلامي اُمت د علماوو اجماع ته مراجعه کوو:

څرنګه چې موږ مخکی د ښځو د حاکمیت په اړه د قرآن او سنت څخه دلایل ذکر کړل او پدې هم پوه شو چې دلایل قاطع دي نو د اُ مت د علماوو اجماع ته دلته ضرورت نشته ځکه چې

---

[297] پورتنی منبع ، ص۶۷

[298] پورتنی منبع ، ص۶۵

اجماع په هغه وخت کې کیږي چې د یوې موضوع په هکله صریح نص نوي موجود او د ښځو د مشرۍ د حرمت په اړه خو ډیر قوي او قاطع نصوص موجود دي نو ځکه تر دې دمه د اُمت علماوو د ښځو د مشرۍ د جواز اجماع نده کړې[299].

## د اسلام د سیاسي تاریخ څخه دلائل:

لکه څرنګه چې د اسلام د سیاسي نظام ټول قواعد د رسول الله "صلی الله علیه وسلم" څخه وروسته هم د خلفای راشدینو په وخت کې تطبیق شوي دي او همدارنګه تر ۲۰ مې میلادي پیړۍ پورې هم په نړۍ کې د مسلمانانو خلا فت موجود وو نو پدې ټولو کې هیڅکله هم یوه ښځه د مسلمانانو د خلیفه په توګه نده مقرره شوې چې د تشریح لپاره به یې هره یوه دوره په لنډ ډول شرح کړو.

## د راشد خلفاؤ دوره:

د اسلام د سیاسي تاریخ په عرف کې خلفای راشدین د رسول الله "ص" څخه وروسته د مسلماناو څلورو خلیفه ګانو ته (ابوبکر صدیق رضي الله تعالی عنه ، عمر فاروق رضي الله تعالی عنه ، عثمان ابن عفان رضي الله تعالی عنه او علي ابن ابی طالب رضي الله تعالی عنه) ته ویل کیږي او دوی ته ځکه خلفای راشدین وایې چې ددوی د خلافت به زمانه کې یو کار هم د اسلامي شریعت خلاف نه ترسره کیده (مګر د انسانانو شخصي ګناهونه ) نو په همدې خاطر ورته خلفای راشدین یا (د رسول الله "ص" ) ریښتوني نايبين وايي ، نو ددوی په وخت کې د اسلام د سیاسي نظام ټول قواعد په مکمل شکل سره تطبیق شوي دي خو بیا هم هیڅ داسې مورد پکې په لاس نه راځي چې ګوندې ښځه دې د مسلماناو د خلیفه په حیث ټاکل شوې وي سره ددې چې ددوی ترمنځ ډیرې پوهې ، فقیهې او په اسلام کې د لوړ شان خاوندانې صحابیاتې موجودې وې چې اسلامي تاریخونو هغوی د قهرمانانو ښځو تر عنوان لاندې ذکر کړي دي خو بیا هم هغوی نه د مسلمانانود خلیفه په توګه ټاکل شې دي او نه یې ددې دندې د اجرا کولو غوښتنه کړې ده[300] نو په همدې اساس دا خبره هم د یو دلیل په توګه ذکر کولای شو چې ښځې هیڅکله هم د مسلمانانو د خلیفه په حیث نشي ټاکل کیدای.

---

[299] زاهدي احمدزی، ښځه او سیاست ، امیر کروړ کتابتون ، پشاور، ۱۳۹۱هـ ش ص ۸۱

[300] عبدالظاهر داعي ، زنان قهرمان در عصر نبوت،مؤسسه انتشارات الازهر ، کابل، ۱۳۸۹ هـ.

## د امویانو د خلافت دوره:

د امویانو د خلافت دوره د خلفای راشدینو د خلافت له دورې څخه وروسته شروع شوه او دا هم د اسلام په تاریخ کې یوه ځلانده دوره ده ځکه چې له یوې خوا پکې اسلامي قلمرو ډېر پراخه شو او له بلې خوا پکې د اسلامي دعوت او د مدارسو د ایجاد او دوام پر اساس د مسلمانانو تعداد ورځ تر بلې زیاتیده که څه هم چې پدې دوره کې بعضي کارونه د اسلام د اُصولو خلاف وو خو بیا هم اسلام ته پکې ډېر خدمت شوې دې دا دوره چې په یوڅلویښت ۴۱ هـ ق کال کې شروع شوه او په یوسلو او دوه دیرش ۱۳۲هـ ق کال کې پای ته ورسیده چې لمړنې حکمران پکې معاویه بن ابو سفیان رضي الله تعالی عنه وو او اخرنی حکمران یې مروان بن محمد وو ، دا چې پدې دوره کې هم په اوایلو کې اکثره صحابه کرام ژوندي وو او تابعین او تبعه تابعین هم پکې موجود وو او بل دا چې د اسلامي فقهې ستر ، ستر علماء هم پدې دوره کې ژوند کاوه ددې هر څه سره هم په دې ټوله دوره کې یوه ښځه هم د مسلمانانو د خلیفه په حیث ونه گومارل شوه او نه چا دا غوښتنه وکړه چې ښځه دې د مسلمانانو خلیفه شي، نو لدې ځایه هم زموږ دعوی د اثبات په طرف ځي او په نتیجه کې ویلای شو چې ددې اسلامي دورې د تاریخ له کتلو څخه وروسته باید ووایو چې په اسلامي نظام کې ښځو ته د خلافت د دندې د ترسره کولو حق نشته[301].

## د عباسیانو د خلافت دوره:

د امویانو د خلافت له دورې د پای ته رسیدو وروسته د عباسیانو د خلافت دوره شروع شوه چې د پیل نېټه یې یوسلو دوه دیرش۱۳۲هـ ق کال اود پای نېټه یې شپږ سوه او شپږ پنځوس ۶۵۶هـ ق کال دې ، ددې کورنۍ لمړنې حکمران عبدالله بن محمد نومیده چې په ابوالعباس سفاح سره یې شهرت درلود او په اخره کې خلیفه مستعصم وو چې اسلامي خلافت د هغه په دوره کې د هولاکو خان په یرغل له مینځه ولاړو، خو په هر حال پدې دوره کې هم د اسلام لپاره ډېر زیات کارونه ترسره شول او اسلامي فقهه د اوج درجې ته ورسیده چې د اسلامي فقهې طلایې دوره هم د عباسیانو د خلافت په دوران کې وه ؛ ددې هر څه سره یعنې چې په اسلامي نړۍ کې ډېر ستر ، ستر فقها هم موجود وو او همدارنگه د احادیثو شپږ مشهور کتابونه هم تدوین شوي وو لنډه دا چې اسلامي احکام هر چاته په ډېر ښه شکل سره معلوم وو خو بیا هم پدې ټوله دوره

---

[301] اکبر شاه نجیب آبادی ، د اسلام تاریخ ، دویم ټوک ،ژباړه: سید فضل مولا لټون ، پېغام خپرندوی مرکز ، پېښور، ۱۴۲۷هـ ق ، صـ ۷تر ۲۰۳

کې یو ه ښځه هم د مسلمانانو د خلیفه او مشرې په توګه ونه ټاکل شوه بلکې ټول حکمرانان یې چې تیر شوي دي ټول نارینه وو.[302]

## د ترکیي عثماني خلافت:

د اسلام په سیاسي تاریخ کې د ترکیي عثماني خلافت هم د یوې ځلاندې دورې په حېث ښکاري ، د ترکیي عثماني خلافت چې رسماً په ۹۲۲ هـ ق کال کې وروسته د مملوکی دولت له ختمېدو څخه شروع شو او تر ۱۳۴۲ هـ ق کال (چې د ۱۹۱۴ میلادي کال سره سمون خوري) پورې یې دوام وکړ چې بیا د مصطفی کمال اتاترک په واسطه لمنځه ولاړ، په هر حال د عثماني خلافت په دوران کې هم د اسلام لپاره ډېر ستر او بنسټیز کارونه ترسره شول ، د اسلامی فقهې مختلف کتابونه ولیکل شول او داسې نور په سلګونه کارونه وشول ؛ خو مقصدي خبره دا چې پدې دوره کې یوه ښځه هم د مسلمانانو د خلیفه په حېث ونه ګومارل شوه او د مسلمانانو ټول خلفاء نارینه وو ، چې دا هم زموږ د ادعا لپاره یو دلیل کېدای شي چې که د ښځو خلافت په اسلامي شریعت کې صحیح وای نو پدې دوره کې خو به هم یوه ښځه د مسلمانانو د خلیفه په حېث ټاکل شوی وای خو داسې هیڅکله هم ونشول.[303]

## د ښځو د خلافت د مؤیدینو دلائل او د هغې ځواب:

د مخکنیي بحث د لوستلو ورسته پدې باندې پوه شو چې په اسلام کې د ښځو لپاره د مسلمانانو د خلافت د دندې ترسره کول مطلقاًمنع ده او جواز نلري خو بیا هم ځینې علماء شته چې ښځو ته د خلافت د دندې د ترسره کولو جواز ورکوي نو موږ به انشاالله چې ددې مطلب په ترڅ کې لمړې د هغوی دلایل ذکر کړو او وروسته به یې انشاالله چې د هر دلیل لپاره ځواب بیان کړو.

اول دلیل: دوکتور یوسف قرضاوي صاحب په خپل کتاب سیاسي فقه کې ویلي دي چې "په اوس وخت کې خو اسلامي خلافت نشته او د نړۍ اکثره نظامونه د دموکراسۍ د نظام پر اساس اداره کېږي نو ښځې خو د خلافت څخه منع شوي دي نه د ولسمشرۍ څخه نو بناءً ښځې کولای شي چې په یو مملکت کې د مسلمانانو عمومي قایده شي" او د خپلې دعوی د اثبات لپاره یې

---

[302] پورتنی منبع ، ص۲۲۷تر ۵۱۲

[303] اکبر شاه نجیب آبادی ، د اسلام تاریخ ، دریم ټوک ،ژباړه: سید فضل مولا لټون ، پېغام خپرندوی مرکز ، پېښور، ۱۴۲۷هـ ق ، ص۲۸۰ تر ۵۱۳

د سبأ د ملکې "بلقیس" داستان ته اشاره کړې ده او ویلي یې دي چې قرآنکریم دې ښځې ته یوه ښه رهبره ویلې ده[304].

ځواب: دا سمه ده چې په اوس وخت کې اسلامي خلافت نشته او په نړۍ کې اکثره جمهوري نظا مونه دي خو باید دا یادونه وشي چې که په خلافت کې خلیفه لمړی شخص وي نو په جمهوري نظامونو کې د هغې معادل جمهور رئیس دی نو دلته جمهور رئیس په خلیفه باندې قیاس کېدای شي او بله خبره دا چې د قرآن کریم د ایت پر اساس د ښځو مشري که په هره اندازه وي په نارینه وو باندې منع ده.

دویم دا چې قرضاوي صاحب د دلیل لپاره د بلقیس د پادشاهۍ کیسه راخیستې ده چې اُصولاً په هغې کیسې باندې په دوه دلایلو استناد نشي کېدای.

1. دا دلیل ځکه صحیح ندی چې د بلقیس پادشاهي چې قرآنکریم ذکر کړې ده هغه یې د بلقیس د مسلمانېدو څخه مخکې ذکر کړې ده نه د هغې د مسلمانېدو څخه وروسته، بلقیس چې کله مسلمانه شوه نو سلیمان "علیه السلام" د هغې نکاح د همدان د پاچا سره وکړه او د همدان پاچا یې د یمن پاچا هم کړ، همدارنګه په یو روایت کې حافظ ابن کثیر ویلي دي چې د مسلمانېدو وروسته بلقیس د پادشاهۍ څخه عزل شوه او ددې په لامه قرطبي لیکلي دي چې د سلیمان "علیه السلام" سره یې نکاح وکړه ؛ خو په هر حال د اسلام د قبلولو وروسته د پادشاهۍ څخه لرې کړای شوې وه[305].
2. که د بلقیس پادشاهي د هغې د اسلام قبلولو وروسته هم صحیح وي ، بیا هم زمونږ لپاره دلیل نشي کېدای ځکه چې د پخوانیو شریعتونو هغه احکام زموږ لپاره قابل د قبول دي چې د قرآن او سنت سره په ټکر کې نه وي او دا خبره د قرآنکریم د آیت او د رسول الله "صلی الله علیه وسلم" د ګڼ شمیر احادیثو سره په ټکر کې ده[306].

دویم دلیل:ددې نظریې ځینې قائلین د جمل په جګړه کې د عایشې رضي الله تعالى عنها ګډون او د هغې لخوا د جګړې په مشرۍ باندې دلیل نیسي او وایي چې پدې جګړه کې لوی، لوی صحابه کرام لکه عبدالله بن زبیر رضي الله تعالى عنه او طلحه بن عبیدالله رضي الله تعالى عنه هم د عایشې رضي الله تعالى عنها تر قیادت لاندې ولاړ وو او یو بل دلیل لدې ځایه دا بیانوي چې عایشې رضي الله تعالى عنها په هغه

---

[304] یوسف قرضاوي ، سیاسي فقه ، ژباړه : شېرآغا کریمي ، مستقبل خپرندویه ټولنه ، کابل ، ۱۳۹۴ هـ ش ، صـ ۲۵۷
[305] زاهدي احمدزی، ښځه او سیاست ، امیر کروړ کتابتون ، پشاور،۱۳۹۱هـ ش ، صـ۱۰۵
[306] پورتنی منبع ، صـ۱۰٦

وخت کې د لمانځه لپاره عبدالله ابن زبیر رضي الله تعالی عنه د امام په توګه مقرر کړ، نو دوی وایي چې هغه څوک چې د لمانځه لپاره امام تعینوي هغه خو خلیفه او عمومي قاید وي ؛ نو کله چې عایشه رضي الله تعالی عنها داسې مقام خپلوي او داسې ستر ، ستر صحابه کرام یې ملاتړ کوي نو لدې ځایه د ښځو د قیادت مسئله صحیح ده[307].

ځواب: د جمل په پېښه باندې د ښځو د قیادت د جواز لپاره استناد کول یو غیر علمي کار دی او هغه ځکه چې:

1. دا دلیل اُ صولاً صحیح ندې ځکه چې په کومه مسئله کې چې د الله تعالی او د رسول الله "صلی الله علیه وسلم" څرګند احکام موجود وي نو په هغې کې د یو صحابي عمل د دلیل په توګه نشي راوړل کېدای او په دې اړه د قرآنکریم او نبوي احادیثو څرګند احکام موجود دي.
2. بله خبره دا چې په هغه وخت کې چې دا پېښه رامنځته شوه نو د زیاتو صحابه کرامو لخوا وغندل‌شو او دا یې یو ناسم کار وباله ، په هغه وخت کې ام المؤمنین ام اسلمه رضي الله تعالی عنها عائشې رضي الله تعالی عنها ته یو خط ولیږه او پکې یې لیکلي وو چې "ستا لمن په قرآن ډکه شوې ده ، ته هغه نه خپروې او تاته یاد نه دي چې رسول الله "صلی الله علیه وسلم" په د ین کې د افراط کولو څخه منع کړې وې ، تا به رسول الله "صلی الله علیه وسلم'ته څه ځواب ویلې وای که هغې پدې توګه لیدلې وای چې د دښتې له یوې خوا نه په اوښ باندې بلې خوا ته ځغاستلې.
   همدارنګه ددې واقعې وروسته عبدالله ابن عمر رضي الله تعالی عنه عائشې رضي الله تعالی عنها ته وویل چې ستا کور ستا لپاره د اوښ د کجاوې نه بهتر وو[308].
3. همدارنګه عائشه رضي الله تعالی عنها هم په خپل دې کار باندې ډېره پښېمانه وه او یو ورځ یې عبدالله ابن عمر رضي الله تعالی عنه ته په شکایتي ډول وویل چې ولې دې زه ددې کار نه منع نه کړم[309].

---

[307] سید حبیب شاکر ، د ښځو سیاسي حقوق ، نشر کوونکې : د ارشاد ،حج او اوقافو وزارت ، کابل ، ۱۳۹۲ هـ ش ، ص ۷

[308] سید ابوالاعلی ، مودودي ، اسلامي ریاست ، ژباړه :قریب الرحمن سعید، دوهم ټوک ، پیغام خپرندوی مرکز ، پشاور ، ۱۳۹۳هـ ش، ص۶۰۳

[309] پورتنی منبع ، ص۶۰۶

دریم دلیل: د ښځو د عمومي قیادت موافقین بل دلیل داسې وایي چې د " ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ " آیت شریف د کورنۍ د چارو په هکله نازل شوې دې نه د ملک په سطحه د سیاست په هکله[310].

ځواب: پدې آیت شریف کې د (الرجال قوامون علی النساء) الفاظ په مطلق ډول راغلي دي نو موږ هم څکه دلته د دلیل په توګه باندې راوړه؛ که چېرې د (فی البیوت) قېد پکې وضع شوې وای نو بیا دا ادعا صحیح کېدله چې دا آیت د کورنیو چارو لپاره دی، خو اوس دا ادعا د منلو وړ نده، بل دا چې که دا ادعا یې ومنو نو بیا هم باید دا ووایو چې کله چې یو چاته الله "ج" په کورنیو چارو کې د مشرۍ حق نه وي ورکړې نو هغه به د یو مملکت په سطحه د مشرۍ قابلیت چېرته ولري[311].

که حقیقت ته نظر وشي نو د اسلامي شریعت حکم پدې اړه یو فطري او ګټور حکم دې او هغه څکه چې:

1. د دنیا پېدا کوونکې الله تعالی دې نو په همدې اساس د دنیا د چارو د انتظام لپاره له هغې څخه بل څوک ښه نه پوهیږي ، نو کله چې الله تعالی دا دنده نارینه وو ته سپارلې ده نو پدې کې د انسانانو خیر او کامیابي ده.
2. الله تعالی د انسان په نوع کې دوه جنسه پېدا کړل چې یو یې نارینه او بل یې ښځینه دي او هر یو ته یې بیل ، بیل خصوصیات ورکړل ،نارینه یې قوي ، د سختیو په مقابل کې مقاومت کوونکې او د هر ډول سخت کار د اجرا قابلیت یې ورکړ؛ او ښځه یې نازکه ، ښایسته او د مهربان زړه درلودونکې پېدا کړه خوی یې داسې دې چې د سختیو په مقابل کې ډېره کمه مبارزه کولای شي ، نو الله تعالی هر یو جنس ته خپلې ، خپلې دندې وسپارلې چې نارینه وو ته یې د سخت کار کولو ، د پېسو ګټلو او د هیواد د سیاست او دفاع دنده وسپارله او ښځې یې په کور کې مأمورې کړې ترڅو خپل اولادونه وروزي او د کور چارې منظمې کړي. نو له همدې ځایه وایو چې د ښځو مسؤلیت د هغوی د اولادونو روزل او د کور د چارو منظم کول دي او که د قیادت او رهبرۍ دنده وسپارل شي نو د اولاد د روزلو او د کور د کار نظم به اخلال شي.

---

[310] محمد حسن حقیار ، ښځه او اسلام ، خپرندوی: د افغانستان د ملي تحریک فرهنګي ځانګه ، ۱۳۹۳هـ ش ، صـ ۱۰۱
[311] سید ابوالاعلی ، مودودي ، اسلامي ریاست ، ژباړه :قریب الرحمن سعید، دوهم ټوک ، پیغام خپرندوی مرکز ، پشاور ، ۱۳۹۳هـ ش، صـ ۶۰۰

3. یوه اساسي خبره دا هم ده چې اسلام پدې خاطر ښځو ته د رهبرۍ حق ندې ورکړې ځکه چې اسلام کې مشري او رهبري ته د مسؤلیت په سترګه کتل کیږي نه د منصب او امتیاز په سترګه چې پدې اړه رسول الله "ص" فرمایلي دي چې : یقیناً چې تاسې خو د امارت حرص کوی خو ژر ده چې د قیامت په ورځ به پښیمانه شی[312].(صحیح البخاري ، باب ما یکره من الحرص علی الإ مارة)

4. همدارنګه باید ووایو چې هر دین او هر قوم کې د مشرۍ لپاره ځانګړي شرطونه وي ، همدارنګه په اسلام کې هم د مشرۍ لپاره ځانګړي شرطونه دي ، تر دې چې په اسلام کې هر سړی هم نشي کولای چې د خلافت ، امامت ... مقام ترلاسه کړي بلکې خاص شرطونه یې ورته کېښودلي دي چې ځکه چې هر سړی دا دروند بار نشي اوچتولی او نه هر سړی د دغه مسؤلیت حق پرځای کولای شي ، همدارنګه د ښځې ځانګړي حالات هغې ته اجازه نه ورکوي چې د مسلمانانو رهبري په غاړه واخلي لکه د هغې میاشتنۍ ناروغي ، د ولادت د مهال ناروغي ، د اولاد روزل او سرپرستي او داسې نور ، نو د ښځې دغه حالات هغې ته دا اجازه نه ورکوي چې په سیاست کې ګډون وکړي او د مسلمانانو عمومي رهبري په غاړه واخلي[313].

5. عملي تجربو هم دا ښودلې ده چې تر اوسه په نړۍ کې اکثره وخت نارینه وو ته دا کار سپارل شوي دي یعنې دا کار د انساني فطرت سره هم یو برابر کار دې چې د قیادت چارې دې نارینه وو ته وسپارل شي.

6. په نړۍ کې که د کامیابو دولتونو سیاسي تاریخ ته وګو رو نو هیڅکله یې هم ښځه واکداره شوې نده، لکه د مثال په ډول د مسلمانانو د برم او عزمت په دوره کې یوه ښځه هم د مسلمانانو د خلیفه په توګه نه وه ټاکل شوې ، همدارنګه د امریکا د متحده آیالاتو تاریخ ته که وګورو تراوسه یې ۴۵ کسانو د ولسمشرۍ دنده ترسره کړې ده چې یوه یې هم ښځه نه وه بلکې ټول ولسمشران یې سړي وو.

7. دا چې په مذهبي ټولنو کې ښځې اکثره په کور کې دننه وي او نارینه د کور څخه دباندې کار کوي او همدارنګه په سیاسي چارو کې هم همیشه نارینه ګډون کوي نو ښځو په رواني

---

[312] رفیع الله عطاء ، په اسلام کې د ښځې مقام ، د سلام پوهنتون علمي مجله ، ۱۳۹۶ هـ ش ، پسرلنی ګڼه ، صـ ۱۰۳

ډول هم دا خبره منلې ده چې سیاست یو مغلق او پېچلې عمل دې او ښځې نشي کولای چې دا درووند پېټې په خپلو اوږو باندې بار کړي.

## مراجع


*زاهدي احمدزی ، د اسلامي حکومت بنسټونه ،

*گوهر رحمان ، اسلامي سیاست ،

*محمد حسن، دیوبندي/ شبیراحمدعثماني، کابلی تفسیر ،

*حسن ، عمید ، فرهنگ فارسي عمید ،

*عبدالقیوم زاهد ، مشوانې ، زاهد پښتو- پښتو سیند ،

*سید ابوالاعلی ،مودودي ، تفسیر تفهیم القرآن ، ژباړه :مولوي قیام الدین کشاف ،

*عبدالسلام رستمي ، تفسیر القرآن الکریم ،

*عبدالله ، فاني ، تفسیر لامثال

* عبدالظاهر داعي ، زنان قهرمان در عصر نبوت،

*اکبر شاه نجیب آبادی ، د اسلام تاریخ ، دویم ټوک ،ژباړه: سید فضل مولا لټون ،

* یوسف قرضاوي ، سیاسي فقه ، ژباړه : شېرآغا کریمي

*زاهدي احمدزی، ښځه او سیاست ،

*سید حبیب شاکر ، د ښځو سیاسي حقوق ،

*سید ابوالاعلی ، مودودي ، اسلامي ریاست ، ژباړه :قریب الرحمن سعید،

*محمد حسن حقیار ، ښځه او اسلام ،

*سید ابوالاعلی ، مودودي ، اسلامي ریاست ،

*رفیع الله عطاء ، په اسلام کې د ښځې مقام ،